مسیر
ورځپانه
نوې لید، نوې مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د جنورۍ ۱۹مه | ۴۹۸یمه گڼه

پوهنتون

۴ مخ

# رابعه بلخي خصوصي پوهنتون

زارع وايي چې پوهنتون يې مجهز کتابتون او د مطالعې ځای لري چې نږدې ۲۵ زره ټوکه بېلابېل کتابونه يې په سافټ او هارډ ډول د خپلو محصلينو او استادانو په واک کې ورکړي دي.




## <u>کرنې رياست</u>: په خوست کې د جلغوزو او چهارمغزو ۳۶۰ قوريې جوړې شوې دي



د خوست د کرنې او مالدارۍ رياست ويلي، چې د دغه ولايت د طبيعي ځنگلونو د خوندي کولو او بيارغولو په پار يې هلې ځلې کړندۍ کړې دي.
د خوست د کرنې رييس حفيظ الله شاه نوري ويلي چې په همدې موخه يې د جلغوزو او چهارمغزو د ځنگلونو د بيارغونې په پار د ياد ولايت په پنځو ولسواليو (موسی خېل، ځاځي ميدان، تنې، سپېره او دوه منده) کې ۳۶۰ کورنۍ قوريې جوړې کړې دي. نوري ويلي، چې په يادو ولسواليو کې د جلغوزو او چهارمغزو د دوه ميليونه او ۱٦۰ زره نيالگيو د توليد په پار ۳٦۰ بزگرانو ته داسې قوريې جوړې شوې چې هر يوه قوريه يې د شپږ زره نيالگيو د توليد وړتيا لري او دوه زره او ۷۰۰ هکټاره ځمکه به پر ځنگل وپوښل شي.
نوري زياته کړې، چې د دغو پروژې له لارې په يادو ولسواليو کې د ځنگلوالۍ ۳٦ ټولنې هم جوړې شوې دي.

# د سولې هڅې او نړيوال غبرگونونه؛

## ملا برادر: امريکايان دې ووځي، له افغان لوري سره ژر هوکړې ته رسېدلې شو



۳

په سوله کې پرمختگ او د افغاني پلاوي نامعلوم برخليک
۲ مخ

د ۱۳۹۹ کال بودجه او د ۹۱ کوډ ستونزه
۲ مخ

انواع اختلال (ADHD) يا کم توجهی بيش فعالی، راه‌های تشخيص و درمان آن
۳ مخ

## <u>هارورډ پوهنتون</u>: قرآن کريم په بشريت کې د عدالت لپاره غوره اساسي قانون دی

د نړۍ تر ټولو مخکښ او مشهور پوهنتون (هارورډ) په خپله يوه تازه څېړنه کې ويلي چې قران کريم د عدالت لپاره د نړۍ تر ټولو غوره کتاب دی.
د اسلامي معلوماتو وېبسايټ په يوه خپره کړې مقاله کې د دغه پوهنتون له قوله ويلي، د دوی څېړنې او مطالعات ښيي چې په قران کې هېڅ ډول بې عدالتي نشته ده او د بشريت لپاره د عدالت د تامين په برخه کې غوره اساسي قانون دی. دغه پوهنتون د خپلو څېړنو په برخه کې د قران کريم ځينې آيتونه را اخيستي دي او ويلي يې چې دغه سپېڅلي کتاب هر ډول بې عدالتي غندلې ده او د بشريت لپاره يې پر عدالت ټينگار کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي اُمت عُلما هم تل د خپلو وعظونو او خطابو پر مهال په اسلام کې بې عدالتي غندي او پر مسلمانانو غږ کوي چې د قران کريم له احکامو سره سم په نړۍ او انساني ټولنو کې د عدالت د تامين لپاره هڅې او کار وکړي.
د يادونې ده چې تر وړاندې هم د قران کريم او اسلام په تړاو د بېلابېلو څېړنيزو بنسټونو له لوري څېړنې شوې چې دغه کتاب يې د نړۍ د امن او ثبات لپاره تر ټولو غوره قانون بللی دی.

## <u>لاوروف</u>: د سولې هوکړه بايد بين الافغاني خبرو ته لاره پرانيزي




۲ مخ

## <u>رحمانی</u>: حکومت افغانستان از پيشرفت مذاکرات صلح بی خبر است



رئيس ولسی جرگه می گويد که مذاکرات صلح افغانستان ميان امريکا، طالبان و پاکستان جريان دارد؛ اما حکومت افغانستان در حاشيه قرار گرفته است.
مير رحمن رحمانی رئيس ولسی جرگه، در جلسه ديروز اين جرگه گفت که پروسۀ صلح توسط امريکا، طالبان و پاکستان به پيش برده می شود و نماينده گان ملت در پروسه صلح سهيم‌نيستند.
وی، با بيان اينکه نماينده گان ملت بايد از هر لحظه پيشرفت پروسه صلح با خبر باشند، علاوه کرد با تاسف که نمايندگان ملت از جريان پروسه صلح کاملاً بی خبر اند.
موصوف، با تاکيد بر اينکه پروسه صلح افغانستان بين سه جانب به پيش می رود، علاوه کرد: «از پيشرفت پروسه صلح حتا حکومت خبر نيست، زمانی که حکومت در جريان نباشد، پس ما ( ولسی جرگه )چگونه در جريان قررا بگيريم».
همچنان عبدالرحمان وردک نماينده مردم ميدان وردک در ولسی جرگه، با انتقاد از اينکه نماينده گان ملت، از پيشرفت های صورت گرفته در خصوص مذاکرات صلح اطلاع ندارند، گفت که مالک اصلی صلح، نمايندگان مردم در شورای ملی می باشند. وی، با ذکر اينکه نبايد خانه ملت در موضوعات بزرگ ملی ناديده گرفته شود، خطاب به رئيس مجلس گفت: «بی تفاوتی نکنيم و نبايد بگوئيم که ما در جريان قرار نداريم».
بلقيس روشن نماينده مردم فراه در ولسی جرگه نيز با انتقاد از بی خبری اعضای ولسی جرگه از روند مذاکرات صلح افغانستان، گفت که بايد به نماينده های ملت معلومات داده شود؛ تا مبادا که شورای ملی به رخصتی زمستانی برود و بدون مشوره با نماينده های ملت، با طالبان معامله صورت بگيرد.



## دریځ

# په سوله کې پرمختګ او د افغاني پلاوي نامعلوم برخلیک

له یو مبهم حالت وروسته یو ځل بیا د سولې په خبرو کې د پرمختګ خبرونه ورکول کېږي. طالبان وایي چې د تاوتریخوالي د را کمولو طرحه یې امریکایي لوري ته سپارلې ده. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي چې ښایي د همدې میلادي میاشتې په پای کې د سولې هوکړه لیک لاسلیک شي. له دې سره په جرمني کې د بین الافغاني غونډې لپاره هم هلې ځلې پیل شوې دي. دا غونډه به د سولې د هوکړې له لاسلیک یوه اونۍ وروسته جوړېږي. د همدې لپاره د جرمني ځانګړی استازی مارکس پوټزل او د دې غونډې د جوړوونکې موسسې (برګهاف) مشر هم کابل ته راغلي او دلته له سیاستوالو او حکومتي چارواکو سره خبرې اترې کوي. داسې ښکاري چې د سولې د هوکړې د لاسلیک وخت را نږدې شوی دی او ژر به د امریکا او طالبانو ترمنځ دا هوکړه لاسلیک شي. دا به یو مهم پرمختګ وي او د سولې په مخ کې به مهم خنډ له منځه ولاړ شي. له دې سره به بین الافغاني خبرې پیلېږي، چې پکار ده هغه هم ژر پایله ولري. د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره که څه هم کار پیل شوی، خو په دې برخه کې جدي ستونزې شته. تر ګردو لویه ستونزه لا هم دا ده چې د افغانستان حکومت د دغه هر څه مخالف ښکاري. حکومت غواړي هر څه د دوی په مشرۍ او مالکیت مخکې ولاړ شي، خو دا چاره نه طالبان مني او نه حکومت هغه واک او ځواک لري چې خپله دا غوښتنه عملي کړي شي. اوس طالبانو د تاوتریخوالي د کمولو طرحه امریکایي لوري ته سپارلې ده چې په حقیقت کې همغه اوربند دی، خو طالبان نه غواړي چې په رسمي ډول د اوربند نوم ورکړي. حکومت بیا وایي چې اوربند شرط دی. طالبان له حکومت سره خبرو ته حاضرېږي نه، خو دوی شرطونه ردي. حکومت به هغه وخت شرطونه اېښودلی چې طالبان ورسره خبرو ته حاضر وی او یا یې هم له یو پیاوړي دریځ څخه خبرې کولی. اوس د حکومت له خوا د شرطونو وړاندې کول، یوازې یو مزاحمت دی، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې مخه هم نه شي نیولی.

د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه کېدونکې ده. موږ باید د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری ولرو. حکومت باید د خبرو لپاره مذاکراتي ټیم اعلان کړي. په دې چاره کې ځنډ نور په واضح ډول د سولې مخالفت دی او خلک به یې ونه شي زغملی. حکومتي چارواکي باید نوي واقعیتونه ومني او دا درک کړي چې د واک د دوام هڅې یې ناکامې شوې او سوله را روانه ده. له همدې امله دوی باید خپل دریځ بدل کړي. اوس پکار ده چې د سولې لپاره پر یو جامع مذاکراتي ټیم کار وشي. دا ټیم چې ۱۵ غړي به لري، یوازې حکومتي ټیم نه دی، بلکې د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ښځو استازي به هم پکې وي. دا یو لانجمن کار دی او حکومت ته پکار ده چې دا کار بشپړ کړي. د حکومت په منځ کې او د حکومت او سیاستوالو ترمنځ د دغه مذاکراتي ټیم پر غړو اختلاف شته او جدي هم دی، خو دا ستونزه باید حل شي. حکومت باید له سیاسي ګوندونو، سیاستوالو او مدني ټولنې سره په دې اړه چټک او بېړنی کار وکړي او په ګډه یو جامع پلاوی وټاکي. له دې پرته د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه کېږي او لانجه به موږ ته را پاتې وي او مسوولیت به یې بیا د حکومتي چارواکو پر غاړه وي.

# د ۱۳۹۹ کال بودجه او د ۹۱ کوډ ستونزه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

څو ورځې وړاندې د حکومت لخوا د ۱۳۹۹ کال لپاره د بودیجې چمتو شوې طرحه ولسي جرګې ته له وړاندې کېدو وروسته د جزګې د غړو لخوا رد شوه. د ولسي جرګې لخوا د روان کال بودیجې طرحې رد کېدو لاملونو او د ۹۱ کوډ څېړلو په اړه په دې تحلیل کې شننه شوې.

### د ملي بودیجې جوړېدو کړنلاره

په افغانستان کې د ملي بودیجې طرحه چې لومړی د مالیې وزارت لخوا چمتو کېږي او بیا کابینې ته وړاندې کېږي. د کابینې له تائید وروسته د بودیجې طرحه مشرانو جرګې ته ځي. د مشرانو جرګې له تائید وروسته ولسي جرګې یا پارلمان ته د تائید خپلولو لپاره وړاندې کېږي. پارلمان چې د هېواد په کچه د ولس استازي پکې راغونډ وي، د بودیجې طرحه په هر اړخیزه توګه څېړي. ترڅو ولیدل شي چې د روان کال په بودیجه کې عادي او پراختیایي بودیجه په سمه توګه اټکل شوې او که نه؟ د ولایتونو په کچه بودیجه څومره متوازنه ده؟ او د بودیجې اړوند یو شمېر نور اړخونه د ولس استازي د یو لړ بحثونو ترسره کېدو په ترڅ کې په هر اړخیزه توګه څېړي. په تېرو څو کلونو کې لیدل کېږي چې د حکومت لخوا د بودیجې چمتو شوې طرحه د یو لړ بحثونو او نیوکو ترسره کېدو وروسته د مشرانو جرګې او ولسي جرګې لخوا پاس کېږي. او تر ډېره هغه نیوکې چې د بودیجې په برخه کې د ولس استازي لري یوازې د کاغذ پر مخ پاتې کېږي. د بودیجې اړوند نیوکې او مشورې چې د ولس استازي یې د حکومت پر وړاندې ږدي، د نه پاملرنې او نه عملي کېدو لاملونه یې څرګند دي. د بېلګې په توګه ډېری وکیلان د بودیجې په برخه کې کافي معلومات نه لري، او نه شي کولی په اغېزناکه توګه د بودیجې اړوند ستونزې د حکومت سره مطرح کړي. بله دا چې په ولسي جرګه کې داسې کسان هم شتون لري چې د ولس په حقیقي رایو نه دي ټاکل شوي، بلکې خپلو شخصي او سیاسي ګټو ته په کتو د بودیجې طرحه ردوي او یا یې پاس کوي. تر دې مهاله لیدل کېږي د ولس هغه استازي چې د بودیجې په برخه کې اړوند معلومات لري او یا د مثبتو بدلونونو غوښتونکي دي د هغوی غوښتنې او نیوکې پر ځای پاتې کېږي.

د روان کال بودیجې شمېرو ته په کتو لیدل کېږي، چې دا ځل ملي عواید هم په اغېزناکه توګه لوړ شوي او په ملي بودیجه کې یې ونډه زیاتوالی ښیي. مګر بیا هم ولسي جرګې د روان کال بودیجه د حکومت لخوا د احتیاطي کوډونو په اړه د جزیاتو نه ورکول، په ځانګړې توګه ۹۱ کوډ ته لېږدول شوې پیسې، او د حکومت لخوا ولسي جرګې ته د بودیجې طرحې په ځنډ لېږل هغه ستونزې یادوي چې د بودیجې تصویب یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړی.

### د ۹۱ ځانګړی کوډ

ولسي جرګه تور پورې کوي، چې د افغانستان بانګ څخه په غیر قانوني توګه ۱۵ میلیارده افغانۍ ۹۱ کوډ ته په غیر قانوني توګه لېږدول شوي دي او د تېر کال پراختیایي بودیجه کې هم د پام وړ بدلون راغلی. خو د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي بیا په دې اړه وایي: چې د بودیجې اړوند اصول نامې د ۱٦ مې مادې له مخې د مالیې وزارت د بودیجې اړوند کمیټې پرته هم د دې پرېکړې کولو واک او صلاحیت لري، ترڅو په احتیاطي کوډونو کې بدلونونه او تعدیلات رامنځ ته کړي. د اصول نامې ۲۱ باب چې د معاشاتو په اړه دی، د مالیې وزارت نه شي کولی د معاشاتو برخې څخه نورو کوډونو ته پیسې ولېږدوي، مګر امنیتي اداري له دې باب څخه مستثنی دي. یعنې د مالیې وزارت کولی شي حتی د معاشاتو څخه هم د اړتیا پر وخت امنیتي ادارو ته پیسې ولېږدوي. د مالیې وزارت هغه تورونه چې د ولس استازو لخوا لګول شوي په همدې بنسټ ردوي. یعنې د ۹۱ کوډ څخه د ۱.۳ میلیارد افغانیو په شاوخوا کې مصرف شوي او د ملي امنیت اداري اوپراتیفي کوډ ته د قانون په رڼا کې لېږدول شوي دي. بلخوا ولسي جرګه ادعا کوي چې حکومت د ۹۱ کوډ څخه مصرف شویو پیسو په اړه باید جزیات له هغوی سره شریک کړي. مګر د مالیې وزارت ویاند پر وینا د ملي امنیت اداري څخه د مصرف شویو پیسو په اړه ولسي جرګه، ولسمشر او په خپله د مالیې وزارت هم نه شي کولی وضاحت واخلي او لامل یې په ملي کچه د سري معلوماتو پټ ساتل ښیي.

که وکتل شي رښتیا هم د ولسي جرګې غړو سره د ۹۱ کوډ څخه د مصرف شویو پیسو په اړه داسې کره شواهد نه شته چې ګواکې حکومت دې په فساد کولو تورن کړي. ځکه حکومت بیا ادعا کوي چې ځکه یې ۹۱ کوډ ته پیسې لېږدولې چې د غزني او کندوز ولایتونه سقوط او فراه ولایت بیا د سقوط ګواښ سره مخ شول نو اړینه وه ترڅو امنیتي ادارو ته پر وخت مرستې ورسیږي. که چېرته د مالیې وزارت په ورته امنیتي حالاتو کې امنیتي ادارو سره د مرستې په اړه د ولسي جرګې تائید خپلوي، دا به وخت نیسي او امنیتي ګواښونو ته په کتو به یې له ګټې زیان ډېر وي. خو بلخوا که وکتل شي په امنیتي ادارو کې په خپله ولسمشر او د امریکا سفیر دا تائید کړه چې فساد شتون لري. که څه هم د هېواد امنیتي ګواښونو او پېښو اټکل به ستونزمن وي، د دې لپاره چې د ۹۱ کوډ پیسې امنیتي ګواښونو په بهانه له حده ډېرې و نه ویستل شي، باید د قانون په چوکاټ کې یو آزاد کمیسون ورته جوړ شي، ترڅو د یادو پیسو مصرف په برخه کې سمه ارزیابي ورځنې وشي. دغه کمیسون چې د ولس استازي یې باید استازیتوب وکړي کولی شي د هغې بهانې مخه هم ډب کړي، کوم چې د مالیې وزارت یې په اړه څرګندونې کوي او وایي چې ملي امنیت اداره نه شي کولی سري او پټ معلومات شریکولو په اړه د ۹۱ کوډ جزیات شریک کړي. د دې کمیسون جوړېدو سره به د ولس هغو استازو نیوکو او تشویشونو ته هم رسیدګي وشي کوم چې د ۹۱ کوډ څخه په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د یو ځانګړي انتخاباتي ټکټ کمپاینونو په برخه کې د ګټې اخیستنې په اړه تورونه لګوي.

### د ۱۳۹۹ کال بودیجه

د ۱۳۹۹ کال بودیجه چې د مالیې وزارت لخوا ۴۲۸ میلیارده افغانۍ اټکل شوې، ۲۸۹ میلیارده یې عادي او ۱۳۹ میلیارده افغانۍ یې پراختیایي بودیجه ده چې د مالیې وزارت شمېرو له مخې د ۱۳۹۸ کال په پرتله یوولس سلنه زیاتوالی ښیي. په دې کې ۲۰۸.۹ میلیارد افغانۍ چې د ټولې بودیجې ۴۸ سلنه جوړوي د ملي عوایدو څخه ترلاسه شوي دي. د افغانستان اقتصادي وضعیت ته په کتو اړینه وه، ترڅو ولسي جرګې په خپل وخت بودیجه تصویب کړې وه. ترڅو له یوې خوا د دولتي کار کوونکو معاشونه پر وخت ورکړل شوي وو او له بلې خوا هغه پراختیایي پروژې چې حکومت یې د پلي کېدو لپاره بودیجه ځانګړې کړې په خپل وخت یې کارونه پیل شوي وو. مګر د ولسي جرګې رئیس میر رحمان رحماني بیا د نورو ستونزو ترڅنګ د روان کال بودیجه د ولایتونو په کچه بې انډوله بولي، او وایي چې ملي بودیجه باید د لومړي، دوییمې او درېیمې درجې سیمو او ولایتونو په حساب و نه ویشل شي ځکه زیات شمېر ولایتونه د همدې وېش پر بنسټ له محرومیت سره مخ دي. په تېرو څو کلونو کې لیدل کېږي چې حکومت د بودیجې تصویب وروسته په پراختیایي بودیجه کې یو لړ بدلونونه راوستي. ځینې ملي پروژې چې بودیجه ورته ځانګړې شوې تر اوسه یې کارونه نه دي پیل شوي او یا یې کارونه سرته نه دي رسیدلي. سږ کال هم حکومت ۵۹۸ پروژې اعلان کړې، په داسې حال کې چې په دې کې ۵۳۹ انتقالي پروژې دي یعنې د تېرو کلونو پروژې او یوازې ۵۹ نوې پروژې دي چې په راتلونکې کې به ولیدل شي چې کارونه یې په کوم ډول پرمخ ځي.

### پایله

حکومت باید د ملي بودیجې پراختیایي برخې لپاره د ټولو ولایتونو په سطحه د خلکو غوښتنو او مشورو ته په کتو پراختیایي بودیجه وټاکي. که څه هم په دې برخه کې د کابل، ننګرهار، قندهار، هرات او مزار شریف په ګډون د شاوخوا لسو ولایتونو یو شمېر خلکو سره ناستې ترسره شوې دي. حکومت باید په راتلونکې کې د هېواد په کچه د ټولو ولایتونو خلکو مشورې او غوښتنې په پراختیایي بودیجه کې ځای پر ځای کړي. داسې نه چې د سیاسي موخو او انتخاباتي کمپاینونو ته په کتو ملي پروژې ځانګړو سیمو ته ولېږدوي. د پراختیایي بودیجې په برخه کې حکومت باید ملي ګټو ته په کتو بدلونونه منځ ته راوړي او هیڅ د شک ځای پرېنږدي. د دې ترڅنګ د دې لپاره چې په راتلونکې کې یوه علمي او عملي ملي بودیجه ولرو، هغه کړنلارې او معیارونه چې د بودیجې جوړولو په برخه کې اړین دي باید په پام کې ونیول شي. د بېلګې په توګه حکومت باید د کره احصایوي شمېرو چمتو کولو لپاره په لنډ مهالي او اوږدمهالي پلانونو کار پیل کړي. که څه هم په دې برخه کې یو څه کار شوی، مګر په ډېرو اړینو برخو کې مرستندویه نه شي واقع کېدلی. که چېرته حکومت کره احصایوي شمېرې په لاس کې ولري، دا کار کولی شي د ولایتونو په کچه د بودیجې وېش متوازن کړي. رسنۍ، مدني ټولنې او د فساد ضد اداري باید د بودیجې په برخه کې د عامو وګړو لپاره هر اړخیزه پروګرامونه په لاره واچوي، ترڅو عام وګړي په بودیجه کې د خپلو نظریاتو او غوښتنو شریکولو حق څخه خبر او اړوند اړخونه د بودیجې جوړولو او پر ځای لګولو په برخه کې خپلو کارونو ته متوجه کړي.

# وکیلان: که د غور سړک لپاره بودیجه ځانګړې نه شي، د ۱۳۹۹ کال مالي کال بودیجه نه تصویبوو

په ولسي جرګه کې د لوېدیځ حوزې استازو د غور-هرات- کابل لویې لارې په نه قیر کېدو نیوکه کړې او د هغه د قیر کولو لپاره د بودیجې د ځانګړې کولو غوښتونکي شول.

په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو استازي غلام فاروق د ملي شورا په تعمیر کې په خبري ناسته کې ویلي چې دا ناسته د غور ولایت خلکو له مشروع حق څخه د دفاع په خاطر جوړه شوې وه.

نوموړي غور د افغانستان له مهمو ولایتونو یاد کړی او ویلي یې دي چې له بده مرغه تراوسه د غور-هرات لویه لار نه ده قیر شوې. ده د ۱۳۹۹ کال په بودیجه کې د یاد ولایت د سړک قیر په شاملولو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې تبعیض باید له منځه لاړ شي؛ څو خلک خپلو مشروع حقونو ته ورسیږي.

همداراز په ولسي جرګه کې د غور د خلکو استازي ګل زمان نایب ویلي چې د غور سړکونو لپاره باید بودیجه ځانګړې شي.

نوموړي زیاته کړې چې که دا غوښتنه یې ونه منل شي، په مدني حرکتونو به لاس پورې کړي.

د دغې ناستې غړو دغه راز ویلي، د غور سړک ته د بودیجې نه ځانګړي کولو په صوت کې د ۱۳۹۹ مالي کال بودیجه نه تصویبوي.

په ورته وخت کې په ولسي چارو کې د ولسمشر سلاکار جنرال احمد خان غوري چې په یاده ناسته کې یې ګډون کړی و، د غور خراب سړک ته په اشارې ویلي چې د دغه ولایت مظلوم خلک له ټولو امکاناتو بې برخې دي او هېڅ پاملرنه ورته نه ده شوې. په هغه پرېکړه لیک چې د دوی له خوا ولوستل شو، راغلي چې له ۱۸ کلونو راهیسې، د غور-هرات سړک یو متر هم نه دی قیر شوی او باید د دغه سړک د اړتیا وړ پیسې د ۱۳۹۹ کال په بودیجه کې شاملې شي.



د پرېکړه لیک په یوه برخه کې راغلي چې په محرومو ولایتونو کې باید د تبعیض مخه ونیول شي؛ که نه نو خلک به په مختلفو سیمو کې په مدني حرکتونو لاس پورې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني، د تېرې ورځې په ناسته کې د غور ولایت د پروژو په اړه د اړوندو مسوولانو نه پاملرنې ته په اشارې وویل چې د بودیجې مالي کمېسیون باید په دې اړه پاملرنه وکړي. نوموړي د ولسي جرګې له غړو وغوښتل چې د خپلو ولایتونو د پروژو په اړه خپل اعتراضونه تر دریو ورځو پورې د بودیجې له مالي کمېسیون سره شریک کړي؛ څو پاملرنه ورته وشي.

# د سولې هڅې او نړیوال غبرگونونه؛

## ملا برادر: امریکایان دې ووځي، له افغان لوري سره ژر هوکړې ته رسېدلی شو



طالبانو یو ځل بیا له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو پر وتلو ټینگار کړی دی. د طالبانو د قطر دفتر مشر ملا برادر تازه له یوې بهرنۍ رسنۍ سره مرکه کړې ده او د سولې په برخه کې یې پر وروستیو پرمختگونو خبرې ورسره کړې دي.

ملا برادر ویلي چې په افغانستان کې د دایمي ثبات د راتگ لپاره باید امریکایي ځواکونه ووځي او په وینا یې، که امریکایان وځي، نو دوی له افغان حکومت سره ژر هوکړې ته رسېدلی شي. بلخوا په نړیواله کچه د افغان سولې په تړاو مهم پرمختگونه شوي دي. ملگرو ملتونو له دې لړۍ د ملاتړ غوښتنه کړې ده، پاکستان د همکارۍ ژمنه کړې او روسیه بیا ټینگار کوي چې طالبان دې د سولې هوکړه لاسلیک کړي.

ټاکل شوې وه چې د ۲۰۲۰ ز کال په پیل کې له طالبانو سره د سولې هوکړه لاسلیک شي، خو د ځینو اختلافونو له امله دغه لاسلیک ځنډېدلی دی. تر ډېره اختلاف پر اوربند دی، چې امریکایي لوری د اوربند او طالبان بیا د تاوتریخوالي کمولو باندې ټینگار کوي، خو اوس تازه ملا برادر وایي چې تر هر څه وړاندې باید امریکایي ځواکونه له افغانستان ووځي. نوموړي له پي بې اېس ټلوېزیون سره په خبرو کې ویلي، که امریکایي ځواکونه وځي، نو دوی ژر کولی شي له افغان حکومت سره هوکړې ته ورسېږي.

د ده په وینا، افغانستان ته د امریکایي ځواکونو د راتگ یوه موخه د اسامه بن لادن له منځه وړل وو، چې هغه اوس نشته، نو امریکایي لوري ته پکار ده چې له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي. د ده په خبره، که امریکایان نه وځي، نو دوی هم اړ دي چې له خپلې خاورې دفاع وکړي. نوموړي دغه راز تور پورې کړی چې امریکا په افغانستان کې د تاوتریخوالي لامل ده. د ده په خبره، که امریکا په افغانستان کې نه وي، تاوتریخوالی کمېږي او ښکېل اړخونه په خپلو کې د خبرو له لارې ستونزه حل کولی شي.

ملا برادر د ښځو د حقونو او راتلونکې حکومتولۍ په اړه هم غږېدلی دی. د ده په خبره، دوی ښځو ته ټول هغه حقونه ورکوي چې د اسلام دین ورکړي او که دوی د کار او دندې مینه والې وي، نو د چوکاټونو په رعایت سره د دندې زمینه هم ورته برابروي.

له دې سره جوخت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي بیا امریکا ته تللی او هلته یې له خپل امریکایي سیال سره کتلي دي. نوموړي ټینگار کړی چې د افغانستان د سولې له پروسې سره همکاري کوي. مایک پامپیو هم په ټینگار له پاکستانه غوښتي چې به افغانستان کې د جگړې په ختمولو او د سولې په راوستلو کې عملي او هر اړخیزه همکاري وکړي. پاکستاني لوري زیاته کړې چې دوی په افغانستان کې د خبرو له لارې د روانې جگړې د پای ته رسېدو ملاتړي دي او دواړو لورو ته پکار ده چې ژر تر ژره دغه هوکړه لاسلیک کړي.

د دې تر څنگ د روسیې د بهرنیو چارو سرپرست وزیر سرگي لاوروف هم د افغان سولې په اړه تازه څرگندونې کړې او ټینگار یې کړی چې په دغه هېواد کې روانه جگړه باید د خبرو له لارې حل شي. نوموړي ویلي چې له طالبانو سره په اړیکه کې دي او له دوی یې غوښتي چې د سولې هوکړه لاسلیک کړي. د ده په خبره: ((امریکا په افغانستان کې د یوه لوی ائتلاف مشري کوي، نو دا ښه ده چې غواړي سوله وکړي او طالبان هم باید د سولې هوکړې لاسلیک ته تیار شي».

بلخوا په دوبۍ کې بیا د ځینو هېوادونو استازو له زلمي خلیلزاد سره د افغان سولې په تړاو خبرې کړې دي. په دې غونډه کې د یوناما مشر تادامیچي یاماموتو ټینگار کړی چې ملگري ملتونه دې سولې ملاتړ کوي او نور یې هم ملاتړ ته هڅوي.

د سولې د دغو تودو هڅو تر څنگ بیا ارگ هم د سولې په راتگ او د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې د لاسلیک هرکلی کوي، خو وایي، باید په دې هوکړه کې اوربند هم شامل وي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي وایي، که موافقه د اوربند او جگړې د پای ته رسېدو لامل نه شي، بې گټې ده.

## لاوروف: د سولې هوکړه باید بین الافغاني خبرو ته لاره پرانیزي



د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرگي لاوروف د افغان سولې په پروسه کې د خپل هېواد د مرستې ډاډ ورکړی او ویلي یې دي چې مسکو چمتو دی په دې برخه کې خپل رول ادا کړي.

لاوروف په مسکو کې په یوه خبري ناسته کې د خبرو پرمهال ویلي، د افغان سولې لپاره یوې داسې توافقنامې ته اړتیا ده، چې بین الافغاني مذاکراتو ته زمنیه سازي وکړي.

هغه زیاته کړې: «متحده ایالات اوسمهال په افغانستان کې د یوه لوی نړیوال ائتلاف مشري کوي او یو مهم لوری دی، موږ له طالبانو سره د امریکا له روانو مذاکراتو ملاتړ کوو، مذاکرات مهم پړاو ته رسېدلي او تمه ده چې ښه پایله ولري، د سولې لپاره داسې توافق ته اړتیا ده، چې بین الافغاني خبرو ته زمینه سازي وکړي».

په ورته مهال د امریکا د بهرنیوچارو وزیر مایک پامپیو له خپل پاکستاني سیال سره پر افغان سوله خبرې کړې او دواړو لوریو ټینگار کړی چې په دې برخه کې به مرستې جاري ساتي.

د پاکستان بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي له دې لیدنې وروسته خبریالانو ته ویلی، هېواد یې د افغان سولې په پروسه کې خپل رول ادا کړی او اوس باید امریکا هم متقابل اقدام وکړي او خپلې اقتصادي ژمنې عملي کړي.

هغه ویلي: «امریکا او نورو نړیوالو ته روښانه ده چې پاکستان د افغان سولې برخه کې مرسته کړې او خپل مثبت رول یې ادا کړی دی، خو اوس موږ تمه لرو چې واشنگټن هم له پاکستان سره خپلې ژمنې عملي کړي، له پاکستان سره خپلې اړیکې ببرته عادي او اقتصادی ژمنې عملي کړي».

د افغان سولې په تړاو د مسکو او پاکستاني چارواکو دغه څرگندونې داسې مهال دي، چې وړمه ورځ د امریکا، اروپا، المان او یوناما استازو په دوبۍ کې د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانگړي استازي سره کتلي او په دې برخه کې یې د نړیوالې ټولنې د همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

## غني: که د کابل د پوهنې ریاست د زده کوونکو د څورونې مخنیوی ونه کړي، دا ریاست به لغوه شي



ولسمشر غني سربېره پردې چې د کابل ښار له واټونو د موانعو لرې کېدو لارښوونه وکړه، گواښ یې کړی، که د کابل د پوهنې ریاست د زده کوونکو د څورونې د مخنیوي په اړه لاس په کار نه شي، ریاست به یې لغوه شي.

له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ولسمشر غني د ملي بحث په څلورمه ناسته کې تېره ورځ له غرمې مخکې د ښېرمې، اوومې او دیارلسمې ناحیو اوسېدونکو نظریات، ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه اورېدلي دي.

غني د دغو کسانو د غوښتنو او وړاندیزونو له اورېدو وروسته ویلي، د نورو ستونزو د حل ترڅنگ به د کابل امنیت کې سراسري بدلون او ملي پولیسو کې اساسي اصلاحات راشي. له ملي پولیسو څخه د خلکو وېره باید پر باور بدله او کابل مصئون شي، ځکه له دې پرته دا بشري او طبیعي پانگه ضایع کېږي.

ده څرگنده کړې، د کابل د مسوولینو اقدامات کافي نه دي، دوی باید په راتلونکو شپږو میاشتو کې شته ستونزې حل او د خلکو رضایت ترلاسه کړي.

هغه په پلاني ساحو د غیرپلاني ساحو بدلولو، مناسب چاپېریال رامنځته کولو او د استملاک برخه کې د خلکو ملاتړ مهم بللی او ویلي یې دي چې په دې برخو کې د نظم او سیستم په رامنځته کولو سره به د کابل ښار عایدات لس برابره زیات شي.

غني د کابل ښار د پوهنې رئیس ته لارښوونه کړې چې که په څلورو اونیو کې د ښوونځیو په ځانگړې ډول د ښځینه زده کوونکو د څورونې د مخنیوي لپاره منظم پلان برابر نه کړي، نو ریاست به یې لغوه شي.

هغه زیاته کړې، د نشه یي توکو پلورونکي هم د تروریستانو په څېر د خلکو وژونکي دي او پر وړاندې به یې جدي اقدامات وشي.

## ټرمپ: د ایران مذهبي مشر دې د امریکا او اروپا پرضد له ناوړه خبرو ډډه وکړي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایران ستر مشر ایت الله علي خامنه اي ته خبرداری ورکړی چې له خپلو خبرو سره پام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې خامنه اي وړمه ورځ د جمعې د لمانځه په خطبه کې ټرمپ مسخره وباله.

ټرمپ پر خپل ټوېټر لیکلي: «د ایران د ستر مشر په نوم منسوب چې په وروستیو کې ډېر ستر هم نه دی پاتې شوی، د متحده ایالتونو او اروپا په برخه کې ناوړه خبرې کړې دي».

هغه ویلي چې د ایران اقتصاد د له منځه تلو په حال کې دی، خلک یې ځورېږي او باید له خپلو خبرو سره ډېر پام وکړي.

په ورته وخت کې خامنه اي په خپلو خبرو کې پر فرانسې، جرمني او برېټانیا هم توندې نیوکې کړې دي. دغو درېو هېوادو ایران تورن کړی چې د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون ژمنې یې سمې نه دي عملي کړې. د ایران ستر مذهبي مشر دغه راز ویلي چې مخکې یې لا دا خبره کړې وه چې پر دغو هېوادو باور نه لري؛ ځکه چې دوی د امریکا په خدمت کې دي.

بلخوا امریکا په یوه تازه اقدام کې د ایران د پوځ پر یوه لوی جنرال حسن شاهورپور سخت بندیزونه لگولي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې پر حسن شاهورپور بندیزونه د دې لپاره لگول شوي چې هغه د نومبر په میاشت کې د ایران د حکومت پرضد پر ولسي لاریونوالو خونړی بندیز لگولی و.

د دغو بندیزونو له مخې، د ایران د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو دغه جنرال امریکا ته له سفره هم منع شوی دی.

د ایران لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي برایان هوک ویلي، جنرال شاهورپور په ماه شهر کې د لاریونوالو پرضد په عمل کې پر بشري حقونو سخت تېری کړی دی. نوموړي زیاته کړې چې هغه د تېرکال په نومبر میاشت کې د ۱۴۸ بې گناه ایرانیانو د قتل عام ننداره وکړه.

د یادونې ده چې جنرال شاهورپور د هغو ډلو مشر و چې په ماه شهر کې یې پر لاریونوالو خونړۍ حملې وکړې او سخت یې وځپل. په وخت کې د ایران حکومت په دې اړه چې په ماه شهر کې له لاریونوالو سره ظلم شوی د امریکا او د بشري حقونو د څار د نړیوالو ادارو رپوټونه بې اساسه بللي دي، خو منلې یې ده چې په دې سیمه کې یې یوشمېر وسله وال ببلتون غوښتونکي ځپلي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




د اتلانتا کاروباري پېښليک د راپور له مخې څه وخت مخکې د اجراییوي رییسانو یوه ډله د اتلانتا په یوه مشهور شرکت کې سره راټوله شوه او د هغه درې ورځني ملي کنفرانس لپاره یې مفکورې او نظریات سره شریکول چې زرګونه پلورونکو ګډون پکې کاوه. ډلې د کنفرانس د بېلابېلو برخو او ناستو لپاره نظریې ورکولې. په دې وخت کې د یوه شرکت مرستیالې په ډېره لیوالتیا دا وړاندیز وکړ:((که اخلاقو ته هم لږه برخه پکې ورکړو، څنګه به وي؟))

په ټوله کوټه کې داسې چوپتیا خپره شوه، لکه مړی چې شوی وي. له ترخو شېبو وروسته بحث بېرته داسې دوام وکړ لکه مرستیالې چې بیخي څه خبره نه وي کړې. د خلکو غبرګون د هغې زړه مات کړ، تر دې چې له خپلې خبرې تېره شوه.

په سبا سهار د شرکت اجراییوي رییس ته لاړه او ورته وې ویل چې په دې کنفرانس کې باید د اخلاقو موضوع ته هم پام وشي. دا په تمه وه چې رییس به یې خبره مني؛ خو هغه ورته وویل:((زه باوري یم چې دا موضوع به ټولو ته مهمه وي؛ خو هر څه خپل وخت او ځای لري. د خرڅلاو ناستې باید هڅوونکې وي او اخلاق ډېره منفي غونډې موضوع ده.))

یوازې دا اجراییوي رییس د اخلاقو په اړه پر دې نظر نه دی. زیاتره خلک پر دې نظر دي چې اخلاق به د دوی فرصتونه، انتخابونه او په کاروبار کې د دوی بریالیتوب محدود کړي.

زیاتره خلک پر دې نظر دي چې اخلاق به د دوی فرصتونه، انتخابونه او په کاروبار کې د دوی بریالیتوب محدود کړي.

دا پخوانۍ وینا ده چې د ښو خلکو کار ځنډېږي (آش مردها دیر پخته میشود.) دوی د هارورډ پوهنتون د تاریخ د استاد هنري ادامس په اند دی چې وایي:((اخلاق شخصي او قیمتي عیاشي ده .))

جالبه دا ده چې په نننی پوروړي کلتور او له ځانځانۍ ډک ژوند کې اخلاقي ښایي هغه یوازینۍ عیاشي وي چې خلک له دې پرته ژوند ته خوشاله دي!

که زه پوه شم چې یوازې دوه انتخابه لرم:
د ګټې لپاره باید هر څه وکړم، ان که بداخلاقي وي او
اخلاق باید وپالم، ان که زیان یا بایلل هم وي.

نو زه له رښتیني اخلاقي دوه لارې (معضلې) سره مخ شوی یم. ځیني خلک به داسې وي چې له درغلۍ سره به ګوزاره وکړي؛ خو زیان او بایلل هېڅوک نه غواړي.

۳) موږ خپلې ټاکنې د نسبیت پالنې پر اساس کوو!

زیاتره خلک چې له داسې حالت سره مخ شي چې د ګټې یا برې امکان پکې نه وي، نو بیا په دې شېبه کې خپلو حالاتو ته په کتو هغه پرېکړه کوي چې سمه وي. دا مفکوره له هغه وخته را پیدا شوه چې د سنیټ پاول کلیسا مشر ډاکتر جوزوف فلیچر د شلمې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې خپل کتاب «د وضعیت اخلاق » (٦) خپور کړ. هغه په دغه کتاب کې وویل:((د سم او ناسم ترمنځ د توپیر یوازینی معیار مینه ده.))

د کارموندنې د رهبرۍ بنسټ وایي:((د فلیچر د وینا له مخې، سم یوازې د حالاتو له مخې ټاکل کېږي او مینه د قتل په ګډون هره بدي (دروغ، درغلي، غلا او نور...) توجیه کولای شي. دغه فلسفه ډېره زر د ښوونې او روزنې او الهیاتو په نړۍ کې خپره شوه. له ( ۱۹٦۰ز) راهیسې د وضعیت اخلاق د ټولنیز چلن لپاره معیار شول. دې فکر د ښوونې او روزنې، دین او حکومت په څانګو کې تر خپرېدو وروسته یوې نوې برخې ته هم مخه کړه او هغه د کاروبار نړۍ وه چې پایله یې زموږ نننی اخلاقي وضعیت دی.))(۷)

پایله یې اخلاقي ګډوډي ده. هر سړی خپل معیارونه لري او دا معیارونه د حالت له بدلېدو سره بدلېږي. دغه موقف ستایل شوی هم دی. په میشیګان پوهنتون کې د «د سوداګرۍ د مدیریت اخلاق» په نوم کورس جوړ شوی و. په معلوماتو کې یې ویلي وو:((دغه کورس د شخصي اخلاقو په مسایلو (صداقت او رښتینولۍ) پورې هېڅ اړه نه لري. داسې ګڼل شوې چې د دې پوهنتون محصلانو د دې موضوعاتو لپاره خپل معیارونه له وړاندې ټاکلي دي.)) (۸)

نو څوک چې هر معیار ټاکي او کاروي یې، ورته سم دی. ځان ته د اسانولو لپاره موضوع یا حالات خرابول او د خپلو ښو پرېکړو له مخې د ځان په اړه قضاوت کول د انسانانو طبیعي لیوالتیا ده؛ خو همدوی بیا نور خلک لوړو معیارونو ته وړي او د هغوی د ناسمو اعمالو له مخې یې په اړه قضاوت کوي. یو وخت به زموږ پرېکړې د اخلاقو پراساس وې؛ خو اوس مو اخلاق د پرېکړو پر اساس دي. که یو شی زما لپاره ښه وي، نو ښه دی. زه وایم چې دا کیسه به کله ختمېږي؟

**دوام لري...**

# رابعه بلخي خصوصي پوهنتون

حمیدالله حمیدي




رابعه بلخي خصوصي پوهنتون خپلې اکاډمیکې چارې له ۱۳۹۱ کال را په دېخوا د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او دغه راز د هغه وخت د آیسا په اداره کې تر ثبت او راجستر وروسته پیل کړې دي. دغه پوهنتون د لوړو زده کړو د یوې موسسې په توګه په لومړي سر کې څلور پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم، اقتصاد، انجنیري او کمپیوټر ساینس) درلودل. د دغه پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال محمد ظاهر زارع وایي، د هغو شرایطو او معیارونو تر پوره کولو وروسته چې لوړو زده کړو وزارت ټاکلي دي، دغه موسسه وتوانېده چې په ۱۳۹۴ کال کې پوهنتون ته ارتقا وکړي. رابعه بلخي پوهنتون اوسمهال شپږ پوهنځي لري، چې پر یادو څلورو پوهنځیو یې عالي قابله ګي او فارمسي پوهنځي هم ور زیات شوي او په ټولو پوهنځیو کې یې اوسمهال محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. د رابعې بلخي پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی دوه دیپارتمنتونه (قضا او څارنوالي)، اقتصاد پوهنځی یې هم دوه دیپارتمنتونه (اقتصاد او سوداګریز مدیریت)، په انجنیري پوهنځي کې( برېښنا او سېول) دیپارتمنتونه، په کمپیوټرساینس پوهنځي کې (ای ټي او سافټویر) دیپارتمنتونه فعال دي او تر څنګ یې په عالي قابلګۍ او فارمسۍ کې تر اوسه پورې په عمومي ډول محصلین لوړې زده کړې کوي. ښاغلی زارع وایي، چې له عالي قابلګۍ او عالي فارمسۍ پرته له نورو پوهنځیو یې تر اوسه څلور دورې محصلین فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وایي، ډېری فارغ شوي محصلین یې په مرکز کابل او د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په کار بوخت دي. په رابعه بلخي خصوصي پوهنتون کې اوسمهال پنځه زره محصلین په بېلابېلو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ٦۰ سلنه یې نارینه او پاتې ۴۰ سلنه یې ښځینه محصلین دي. لکه څرنګه مو چې مخکې وویل، د دغه پوهنتون له څلورو لومړنیو پوهنځیو څخه تر اوسه د درې زره په شاوخوا کې محصلین په څلورو دورو کې فارغ شوي، چې پنځمه دوره یې سږ کال فارغېږي. محمد ظاهر زارع وایي، چې د نویو محصلینو د جذب لپاره کوم ځانګړی میکانېزم نه لري، خو دغه څه تر ډېره د هېواد په عمومي اوضاع او د خلکو په اقتصادي وضعیت پورې تړلې خبره ده. له دې سره سره دوی په کال کې د پنځو سوو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. دغه پوهنتون ته د ورځې په دوو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورځي چې د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو او بیا له غرمې وروسته تر ماښام پورې پکې محصلینو ته تدریس کېږي.

د رابعه بلخي پوهنتون اداره په بېلابېلو کټګوریو کې د محصلینو لپاره تخفیف لري. د دغه پوهنتون د علمي او تدریسي چارو مرستیال محمدظاهر زارع وایي، چې د شهیدانو د ورثه وو لپاره ځانګړی تخفیف لري؛ هغه که د نظامي برخې دي او که د ملکي. دی وایي، له همدې ډلې یې سږ کال ۱۰۰ تنه محصلین د یوه ځانګړي تخفیف له مخې د لوړو زده کړو لپاره په پوهنتون کې شامل کړي دي. دغه راز د عمومي اول نمره ګانو او هغو کسانو لپاره چې له یوې کورنۍ څخه دوه یا درې تنه په یاد پوهنتون کې د زده کړو هوډ ولري، ځانګړی تخفیف ورکوي.

زارع وایي، چې اړتیا ته په کتو یې په ټولو پوهنځیو کې د لوړې تحصیلي کچې، ښې تجربې درلودونکي او وړ استادان پر دندو ګومارلي دي. دی وایي، دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې په علمي برخه کې خلکو ته د خدمت ترڅنګ له نورو خصوصي پوهنتونونو سره د سیالۍ مسئله هم مطرح ده، نو دوی هڅه کوي داسې استادان د تدریس لپاره غوره کړي چې هم د محصلینو په خوښه وي، وکولی شي چې هغوی ته ښه تدریس وکړي او تر څنګ یې په علمي برخه کې له نورو خصوصي پوهنتونونو سره دوی پرې سیالي وکړي او په دې ډګر کې مخ پر وړاندې لاړ شي.

محمد ظاهر زارع وایي، چې پوهنتون یې مجهز کتابتون او د مطالعې ځای لري، چې لږ تر لږه ۲۵ زره ټوکه بېلابېل کتابونه یې په سافټ او هارډ ډول د خپلو محصلینو او استادانو په واک کې ورکړي دي، چې دوی کولای شي وخت ناوخته له دغو کتابونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. زارع وایي، چې محصلین او استادان یې کولای شي چې په مجازي ډول هم د دوی کتابتون ته لاسرسی ولري او خپلې ستونزې حل کړي.

که څه هم چې رابعه بلخي پوهنتون تر اوسه له کوم بهرني پوهنتون سره د علمي اړیکو کومه هوکړه نه لري، خو زارع وایي، چې په دې برخه کې یې هڅې پیل کړې او په نږدې راتلونکي کې به په یو شمېر بهرنیو هېوادونو کې له ځینو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کړي، د هغوی له تجربو به ګټه واخلي او خپل استادان او محصلین به د لا نورو لوړو زده کړو او تجربو تر لاسه کولو او وړتیا لوړولو لپاره دغه پوهنتونونو ته ور واستوي. دی وایي، په کور دننه له ډېرې دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري او وخت ناوخته ور سره خپلې ستونزې او تجربې شریکوي او تر څنګ یې د هغوی له تجربو ګټه اخلي او د ستونزو په حل کې ور سره مرسته کوي.

د رابعه بلخي پوهنتون اداره وایي، چې دوی تر اوسه خپلو فارغ شویو محصلینو ته هغه دیپلومونه نه دي ورکړي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورکول کېږي، خو هغه تصدیق پاڼې یې ورکړې چې د محصل فراغت تاییدوي او محصلین کولای شي چې په دې تصدیق پاڼه باندې دنده واخلي او یا په کور د ننه او بهر کې پرې نورې لوړې زده کړې وکړي او د ماسټرۍ پروګرام تعقیب کړي. زارع وایي، تر اوسه دوی ته د دیپلومونو د وېش د لړۍ وار نه دی رسېدلی او لوړو زده کړو وزارت لومړی له هغه پوهنتونونو د دیپلومونو د وېش لړۍ پیل کړې چې له نورو یې مخکې د فعالیت جوازونه اخیستي دي. دی وایي چې دوی هم د فارغ شویو محصلینو د فارغت کتاب ور استولی چې په خپل وار به دوی ته هم دولتي دیپلومونه ورکړل شي. محمد ظاهر زارع وایي، چې د محصلینو لپاره یې تر خپلې وسې پورې هغه توکي او امکانات برابر کړي، چې یو پوهنتون یې باید ولري.

د رابعه بلخي پوهنتون د علمي چارو مرستیال وایي، چې د پوهنتون لپاره یې پنځه کلن ستراتېژیک پلان چمتو کړی او تایید شوی هم دی چې ټولې برخې لکه، د کادري برخې پیاوړي کول، د علمي هوکړو لاسلیکول، د نویو څانګو جوړول، د نویو پوهنځیو تاسیس، د ماسټرۍ پروګرام پیلول او نور د پرمختګ هر اړخیز مسایل پکې شامل دي چې یو پر بل پسې به عملي کېږي.

نوموړی وایي، چې له دې وړاندې د لوړو زده کړو وزارت خصوصي پوهنتونونو ته ډېره پاملرنه نه کوله او همدا وزارت و چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د محصلینو تر منځ یې د توپیر خبره مطرح کوله، خو په خبره یې، له نېکه مرغه له دریو کلونو را په دېخوا د وزارت له لوري دغه ستونزه حل شوې او اوس د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د محصلینو ترمنځ کوم توپیر نه لیدل کېږي او لوړو زده کړو وزارت پر خصوصي پوهنتونونو هم خپل څار زیات کړی چې دوی یې هرکلی کوي او د دغه څه د دوام غوښتنه کوي، څو پر خصوصي پوهنتونونو د خلک باور نور هم زیات شي. دوی په ټوله کې اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت له کار او څار څخه راضي دي.

د یاد پوهنتون اداره تر اوسه له کومې جدي ستونزې سره مخ نه ده، خو وایي چې په ټوله کې د افغانستان امنیتي او اقتصادي وضعیت د ډاډ وړ نه دی چې دغه څه نه یوازې د زده کړو په برخه کې، بلکې په عمومي کچه د پرمختګ په مخ کې یو خنډ کېدای شي. خو د افغانستان د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، د دایمي ځایونو امکانات ورته برابره کړي او له مالیې وزارت څخه وغواړي چې پر خصوصي پوهنتونونو مالیه کمه کړي، څو پر خپلو پښو ودرېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۸۵,۱۰ |
| Rp. | ۴۸۴ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

**Kam Air**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

**flydubai**

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

روغتیا

# انواع اختلال (ADHD) یا کم توجهی بیش فعالی، راه‌های تشخیص و درمان آن

**ترجمه: احمد فردوسی**

اختلال (ADHD) یا کم توجهی بیش فعالی از جمله اختلالات رایج در میان کودکان است. این اصطلاح طیفی بسیار وسیع و گسترده را شامل می‌شود. اختلال کم توجهی بیش فعالی در افراد مختلف به شکل‌های گوناگون دیده می‌شود. مراکز کنترل و پیشگیری از بیماری ها در آمریکا اعلام کرده‌اند که حدود ٦,۴ میلیون نفر از کودکان آمریکایی دچار این اختلال هستند. در گذشته فقط بر بی‌توجهی تمرکز داشتند و از ویژگی‌های بیش فعالی کودکان مبتلا سخنی به میان نمی‌آمد. در واقع اختلال مذکور عمدتاً ناتوانی افراد در تمرکز کردن شناخته می‌شد و به آن(add) می‌گفتند، اما در حال‌حاضر این اصطلاح کاملاً منسوخ شده است. انجمن روانشناسی آمریکا در چاپ پنجم کتابچه راهنمای آماری و تشخیصی بیماری های روانی، که در ماه می سال ۲۰۱۳ منتشر کرده، معیارهای ابتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی را تغییر داده است. خواندن متن را ادامه دهید تا درباره این اختلال بیشتر بدانید.

**انواع اختلال کم توجهی بیش فعالی یا(ADHD)**

سه نوع اختلال کم توجهی بیش فعالی وجود دارد:

**بی‌توجهی**

اختلال بی‌توجهی همان حالتی است که بیشتر بر ناتوانی در تمرکز کردن انگشت می‌گذارد و به بیش‌فعالی بی‌اعتناست. به عبارت دیگر، علائم کافی برای اثبات ابتلای فرد به بی‌توجهی عبارت‌اند از اینکه به‌خوبی تمرکز نمی‌کند یا به راحتی دچار حواس پرتی می‌شود، اما خبری از ویژگی‌های یک فرد بیش فعال در او نیست.

**بیش‌فعالی**

در این حالت از اختلال فرد مبتلا دارای علائم بیش فعالی است اما نشانه‌ای از نبود تمرکز و بی‌توجهی در رفتارهایش دیده نمی‌شود.

**حالت ترکیبی**

حالت ترکیبی حالتی است که در آن فرد مجموعه‌ای از نشانه‌های حواس‌پرتی، بیش‌فعالی و ناتوانی در تمرکزکردن را از خود بروز می‌دهد.

**بی‌توجهی و نبود تمرکز**

بی‌توجهی و دشواری در تمرکزکردن از نشانه‌های اختلال کم‌توجهی بیش فعالی است و درصورتی‌که کودک دارای علائم و رفتارهای زیر باشد، داکتر متوجه وجود این اختلال در او خواهد شد:

به‌راحتی دچار حواس‌پرتی می‌شود؛
حتی در انجام‌دادن کارهای روزانه هم فراموش‌کار است؛
در انجام‌دادن تکالیف مکتب نمی‌تواند به جزئیات توجه کند و از روی بی‌دقتی مرتکب اشتباهاتی می‌شود؛
در انجام‌دادن کارها و فعالیت‌های مختلف از تمرکزکردن عاجز است؛
حتی زمانی که فردی به طور مستقیم و رو در رو با او صحبت می‌کند به گوینده توجه ندارد و او را نادیده می‌گیرد؛
پیروی‌کردن از دستورالعمل‌ها و قوانین برایش ممکن نیست؛
در انجام‌دادن کارهای خانه یا مکتب ناموفق است؛
تمرکزش را به‌آسانی از دست می‌دهد یا حواسش پرت می‌شود؛
با نظم و انضباط مشکل دارد؛
از فعالیت‌هایی مانند انجام‌دادن تکالیف که به صرف زمان طولانی و تلاش‌های ذهنی نیاز دارد خوشش نمی‌آید؛
موارد ضروری و لازم برای پیشبرد وظایف و کارهای مختلف را گم می‌کند.

بیش‌فعالی از نشانه‌های اختلال کم‌توجهی بیش فعالی است و در صورتی‌که کودک دارای علائم و رفتارهای زیر باشد، داکتر متوجه وجود این اختلال در او خواهد شد:

همیشه میل رفتن دارد و انگار بی‌قرار انجام‌دادن کاری است؛
بیش از حد حرف می‌زند؛
در امور مختلف، برای رسیدن نوبتش صبور نیست؛
در موقعیت‌هایی که باید آرام باشد، از درو دیوار بالا می‌رود و در جای خود نمی‌نشیند؛
نمی‌تواند به‌آرامی بازی کند یا در فعالیت‌های سرگرم‌کننده آرامشش را حفظ کند ؛
قبل از اینکه پرسش افراد تمام شود میان کلامش می‌آید و پاسخ می‌دهد؛
مدام وسط حرف دیگران می‌پرد.

**دیگر نشانه‌های اختلال (ADHD) یا کم توجهی بیش فعالی**

بی‌توجهی، بیش فعالی ازجمله نشانه‌های مهمی هستند که به تشخیص اختلال (ADHD) کمک می‌کنند. علائم و نشانه‌های دیگری که اثبات می‌کند فلان کودک یا بزرگ‌سال به چنین اختلالی دچار است شامل موارد زیر می‌شود:

بروز نشانه‌های اختلال (ADHD) تا قبل از ۱۲ سالگی؛
بروز علائم در بیش از یک موقعیت و مکان، مثلاً در خانه، مدرسه، در برخورد با دوستان یا موقعیت‌های دیگر؛
اثرگذاری علائم و نشانه‌های اختلال بر فعالیت‌ها در محیط کار، مکتب یا دیگر موقعیت‌های اجتماعی؛
وجود رفتارهایی که نمی‌توان آنها را با اختلالات دیگر مانند اختلالات اضطراب و خلق‌وخو توجیه کرد.

**رفتارهای رایج در افراد مبتلا به اختلال ( ( ADHD**

تقریباً تمام افراد، در طول زندگی خود، سطوحی از اختلال (ADHD) را تجربه می‌کنند. اگر علائم و مشکلات این اختلال به‌تازگی در بزرگ‌سالی برای‌تان رخ داده است یا گاه گاه شاهد آن بوده‌اید، به‌احتمال زیاد دچار این اختلال نیستید. زمانی می‌توان فرد را مبتلا به اختلال (ADHD) دانست که علائم در او به حدی شدید باشد که در بیش از یکی از زمینه‌های زندگی فرد مشکلاتی قابل‌توجه به وجود آورد. ردپای این علائم مخرب و مداوم به کودکی فرد می‌رسد.

تشخیص (ADHD) در بزرگ‌سالان کمی دشوار است، زیرا علائم آن با نشانه‌های اختلالات دیگر مانند اضطراب و اختلالات خلق‌وخو شباهت دارد. همچنین، بزرگ‌سالان مبتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی معمولاً حداقل یک مشکل روحی دیگر مانند اضطراب یا افسردگی را هم تحمل می‌کنند.

**زمان مراجعه به داکتر**

اگر علائم و نشانه‌های مذکور باعث بروز مشکل در زندگی عادی فرد شود، باید به داکتر مراجعه کند. داکتران متخصص می‌توانند این بیماری را تشخیص دهند. مراجعه به متخصصی که در این زمینه تجربه دارد در بهبود روند درمان مؤثر است.

**دلایل ابتلا به(ADHD)**

دلیل اصلی بروز اختلال کم توجهی بیش فعالی مشخص نیست و تلاش‌ها برای کشف آن همچنان ادامه دارد. ازجمله عواملی که در ابتلا به این مشکل نقش دارند باید این موارد را ذکر کرد:

عوامل جنتیکی: امکان دارد که اختلال (ADHD) ارثی باشد. مطالعات نشان می‌دهد که عوامل جنتیکی می‌توانند در اختلال(ADHD) نقش داشته باشند؛
عوامل محیطی: عوامل محیطی مشخص مانند قرارگرفتن در وضعیت آب‌وهوایی آلوده هم می‌تواند موجبات ابتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی را فراهم کند؛
مشکلات در حین رشد: مشکلاتی که در حین رشد در سیستم اعصاب مرکزی رخ می‌دهند می‌توانند نقشی مهم در بروز (ADHD) داشته باشند.

**عوامل ایجاد خطر**

خطر ابتلا به اختلال (ADHD) در موقعیت‌های زیر افزایش می‌یابد:

داشتن والدین یا خواهر و برادرهایی که به اختلال کم توجهی بیش فعالی یا اختلالات روحی دیگر مبتلا هستند؛
مصرف الکول، مواد مخدر یا سگرت کشیدن مادر در دوران بارداری؛
قرارگرفتن در معرض مواد و محیط‌های زهری در دوران کودکی هم می‌تواند احتمال ابتلا به این اختلال را افزایش دهد. برای مثال، وجود سرب در رنگ و لوله‌های بناهای قدیمی ازجمله عوامل افزایش احتمال بروز(ADHD) است؛
تولد زودهنگام.

**خطرات ناشی از اختلال کم توجهی بیش فعالی**

ابتلا به این مشکل می‌تواند زندگی را برای افراد دشوار کند. برای مثال:

عملکرد ضعیف در مکتب یا محل کار؛
بیکاری؛
مشکلات مالی؛
بروز مشکلات قانونی (زیرپاگذاشتن قانون از سوی فرد و به‌وجودآمدن مشکلاتی در پی آن)؛
مصرف الکول و مواد مخدر؛
وقوع تصادفات رانندگی و...؛
نبود ثبات در روابط بین‌فردی؛
ضعف در سلامت روان و جسم؛
تضعیف وجهه شخصی برای خود فرد (نداشتن تصویری درست و واضح از خود)؛
تلاش برای خودکشی.

**بروز اختلالات دیگر در کنار اختلال ( ADHD)**

اگرچه اختلال کم توجهی بیش فعالی نمی‌تواند باعث شکل گیری اختلالات روانی دیگر شود، اما بعضی از مشکلات هم در کنار آن به وقوع می‌پیوندند؛ یعنی هرچند که (ADHD) ریشه وقوع آنها نیست اما در کنار آن می‌توانند در فرد پدیدار شوند:

اختلالات خلق‌وخو: بسیاری از افراد مبتلا به (ADHD) دچار اختلالات خلق‌وخویی مانند افسردگی یا اختلالات دوقطبی هم هستند. لزوماً نمی‌توان علت مشکلات جانبی در کنار اختلال (ADHD) را در این مشکل پیدا کرد، اما هم‌زمانی وقوع‌شان و مشکلاتی مانند ترس‌ها و شکست هایی که با ابتلا به اختلال (ADHD) پیش می‌آید باعث می‌شود مشکلاتی مانند افسردگی تشدید شوند.

اختلالات اضطراب: اختلالات اضطراب اغلب در بزرگ‌سالان به وقوع می‌پیوندد. از نشانه‌های آن می‌توان نگرانی‌های استرس‌زا و عصبی‌شدن را برشمرد. اضطراب در مواجهه با چالش‌ها و شکست‌های ناشی از(ADHD) تشدید می‌شود.

اختلالات صحی دیگر: بزرگ‌سالان مبتلا به اختلال (ADHD) در معرض ابتلا به اختلالات روانی دیگری مانند اختلالات شخصیتی، اختلال انفجاری متناوب یا اختلال سوءمصرف مواد هستند.

اختلالات یادگیری: افراد مبتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی، نسبت به سن‌شان، در یادگیری عقب هستند. هوش آنها متناسب با سن‌شان نیست و در تحصیلات موفقیت های کمتری به دست می‌آورند. اختلالات یادگیری به مشکلاتی در درک و ارتباطات فرد مبتلا مربوط می‌شوند.

**اختلال کم توجهی بیش فعالی در بزرگ سالان**

بزرگ‌سالان مبتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی یا (ADHD) از کودکی به این مشکل دچار می‌شوند. اما امکان دارد که وجود اختلال مذکور در بزرگ‌سالی در آنها کشف شود. تشخیص وجود این مشکل معمولاً از طریق یک دوست، همکار یا یکی از اعضای خانواده صورت می‌گیرد که مشکلات در روابط یا محل کار را می‌بینند. بزرگ‌سالان می‌توانند به هریک از سه نوع نام‌برده از اختلال کم توجهی بیش فعالی دچار شوند. تفاوت‌های جسمی بزرگ‌سالان با کودکان و بلوغ‌شان باعث می‌شود که علائم اختلال در آنها به‌شکل متفاوت ظاهر شود.

آیا امکان دارد درمان‌نکردن اختلال کم توجهی بیش فعالی به استمرار این وضعیت در بزرگ‌سالی بینجامد؟ واقعیت این است که با رشد و ورود به بزرگ‌سالی، قشر پیش‌پیشانی مغز هم رشد می‌کند و به بلوغ می‌رسد. این موضوع باعث کاهش شدت علائم اختلال می‌شود. تقریباً مشخص شده است که حدود یک‌سوم از مبتلایان در بزرگ‌سالی دیگر نشانه‌های این اختلال را ندارند. البته امکان دارد که علائم همچنان به‌شکلی خفیف‌تر هم در افراد وجود داشته باشند.

**شدت اختلال کم توجهی بیش فعالی**

شدت نشانه‌های اختلال کم توجهی بیش فعالی می‌تواند از حالت متوسط تا شدید متفاوت باشد. این تفاوت‌ها به وضعیت روان و محیط هر فرد وابسته است. بعضی از افراد در هنگام انجام‌دادن کارهایی که دوست ندارند علائم خفیفی از اختلال را بروز می‌دهند. اما درباره کارهای که دوست دارند توجه و دقت کافی به خرج می‌دهند. بعضی دیگر از افراد مبتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی هم هستند که علائم شدیدتری از خود بروز می‌دهند و درنتیجه، این اختلال کار، مکتب و حضورشان در موقعیت‌های اجتماعی مختلف را تحت‌تأثیر قرار می‌دهد.

در بیشتر مواقع، علائم و نشانه‌های اختلال در افراد در محیط‌های ساختارنیافته‌تر و نامنظم‌تر تشدید می‌شود. برای مثال، در پارک و زمین بازی می‌توان شاهد شدیدترشدن بروز علائم اختلال بود اما در محیطی مانند مکتب چنین چیزی کمتر نمود و بروز پیدا می‌کند. در محیطی مانند مکتب که نظم و ساختار بیشتری وجود دارد و در آن ارزیابی عملکرد صورت می‌گیرد، افراد مبتلا به اختلال کم توجهی بیش فعالی نشانه‌های کمتری بروز می‌دهند. مشکلات و وضعیت‌های دیگری مانند اضطراب، افسردگی یا ناتوانی‌های مختلف در یادگیری باعث شدیدتر شدن اختلال کم توجهی بیش فعالی می‌شوند. در بعضی از افراد، با ورود به بزرگ‌سالی، نشانه‌های اختلال هم از بین می‌رود. مثلاً بزرگ‌سالی که در کودکی به این مشکل دچار بوده است در بزرگ‌سالی می‌تواند بی‌قراری‌اش را بیشتر تحت کنترل درآورد.

**تشخیص اختلال**

تشخیص علائم اختلال کم توجهی بیش فعالی در بزرگ‌سالان می‌تواند دشوار باشد. در هرحال، علائم اصلی این مشکل از قبل از ۱۲سالگی بروز می‌کنند و تا بزرگ‌سالی ادامه دارند و مشکلاتی جدی به وجود می‌آورند. هیچ آزمایشی به‌تنهایی نمی‌تواند به تشخیص قطعی (ADHD) بینجامد. برای رسیدن به تشخیصی درست مراحل و آزمایش‌های زیر لازم‌اند:

آزمایش جسمانی: این آزمایش‌ها به ریشه‌یابی دلایل احتمالی نشانه‌های موجود در فرد کمک می‌کنند؛
جمع‌آوری اطلاعات: در این روش درباره تمام مسائلی که بیمار به‌تازگی تجربه کرده است از او سؤال می‌شود، سوابق سلامت خانواده و خود شخص و تاریخچه و سوابق علائمی که تجربه کرده هم بررسی می‌گردد؛
آزمون‌های روان‌شناسی یا استفاده از مقیاس درجه‌بندی (ADHD): این آزمون‌ها به جمع‌آوری اطلاعات درباره نشانه‌ها و ارزیابی‌شان کمک می‌کند.

Maseer Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۱۹مه | ۴۹۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۵ | ۱۱ | ۸ | ۱٤ | ۱۱ |
| -۷ | ۰ | ۱ | ۲ | ٤ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰٦:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰٤ | مازیګر ۰۲:۵۰ | ماښام ۰۵:۰۹ | ماخوستن ۰٦:۳۷

## نړۍ



## ټرمپ: د ایران مذهبي مشر دې د امریکا او اروپا پرضد له ناوړه خبرو ډډه وکړي

۳

## اردوغان: که اروپا په لیبیا کې د روان کړکیچ حل غواړي، د ترکیې له هڅو دې ملاتړ وکړي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان پر اروپا غږ کړی چې که غواړي په لیبیا کې کړکېچ پای ته ورسېږي، په یاد هېواد کې دې د ترکیې له هڅو ملاتړ وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې ترکیه اوسمهال په لیبیا کې د طرابلس حکومت ته چې په نړیواله کچه په رسمیت پېژندل شوی، پوځي ملاتړ برابروي.
اردوغان دا څرګندونې په هغه کالم کې کړې چې تېره ورځ په پولیټیکو وېبپاڼه کې خپرې شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې تمه ده نن په برلین کې د لیبیا د ثبات لپاره سرمشریزه ناسته وشي.
د ډیپلوماتانو له څرګندونو او د یوې اعلامیې له مسودې ښکاري چې په دې غونډه کې به جرمني او ملګري ملتونه په لیبیا کې له ښکېلو لورو وغواړي چې د سولې پر لور د لومړي ګام په توګه پر اوربند او د څارنې پر یو مکانېزم سلا شي.
د یادونې ده چې ترکیه په لیبیا کې د فایض السراج د طرابلس مېشتي حکومت ملاتړ کوي او د ده مخالف خلیفه حفتر چې د لیبیا په ختیځ کې د لیبیا د ملي پوځ په نوم د ځواکونو مشري کوي، کودتاچي بولي.
اردوغان ویلي: «موږ به د لیبیا ځواکونه وروزو او ورسره به مرسته وکړو چې د ترهګرۍ، انساني قاچاق او نړیوالې ټولنې ته د نورو جدي ګواښونو پر ضد مبارزه وکړي».
ټاکل شوې حفتر او سراج دواړه په برلین کې د ترکیې، روسیې، مصر او نورو لوېدیځو او عربي هېوادونو له مشرانو سره یوځای په دې غونډه کې برخه واخلي.

## ملګري ملتونه: تېره میاشت په سوریې کې د جګړې له کبله ۱۵ سوه کسان وژل شوي دي



ملګرو ملتونو ویلي چې تېره میاشت په سوریې کې د جګړو او نښتو له کبله ۱۵ سوه کسان وژل شوي دي.
د بشري حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرې مېشل باچلېت ویلي چې په دغو وژل شویو کسانو کې ډېری برخه کې ملکیان دي.
هغې ویلي: « تېره میاشت په سوریه کې د ښکېلو غاړو ترمنځ د نښتو او جګړو له کبله ۱۵۰٦ تنه وژل شوي دي. په دې وژل شویو کې ډېری برخه یې ملکیان دي، موږ ژر تر ژره د جګړې د بندولو غوښتنه کوو».
نوموړې زیاته کړې چې په دغه هېواد کې دې ژر تر ژره پوځي عملیات او نښتې ودرول شي او ترڅنګ یې دې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وشي.
هغې دغه راز په مخالفو ډلو هم غږ کړی عامو تاسیساتو ته دې له زیان اړولو ډډه وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د سوریې کورنۍ جګړه په ۲۰۱۱ ز کال کې پیل شوه چې تر دې دمه پکې د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، په سلګونو زره کسان وژل شوي، ټپیان شوي او په میلیونو نور یې کډوال شوي دي چې یوه لویه شمېره کډوال یې لا هم په ترکیې او نورو ګاونډیو هېوادونو کې مېشت دي.


## کمیسیون شکایات: تاکنون دربارۀ بازشماری آرای ۵۳۷۸ محل رأی‌دهی فیصله نشده



کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی، می گوید که اعضای این نهاد تاکنون دربارۀ بازشماری آرای ۵۳۷۸ محل رأی‌دهی فیصله نکرده‌اند.
محمد قاسم الیاسی، سخن‌گوی این کمیسیون دیروز به رسانه ها گفته است تا زمانی که رأی‌زنی‌ها میان تمامی اعضای این کمیسیون دربارۀ بازشماری آرای این محل‌ها نهایی نشود، این محل‌ها بازشماری نخواهند شد. الیاسی در این باره گفته است: «یک بحث دیگر اینجا وجود دارد که باید اعضای کمیسیون دربارۀ آن فیصله کند که اگر محلاتی وجود داشته باشند که یکبار بازشماری شده، آیا دوباره به بازشماری برود یا نرود».
این در حالی است که به روز پنج‌شنبه، یک عضو این کمیسیون گفت که تنها محل‌های رأی‌دهی‌یی که از سوی دسته‌های انتخاباتی در برابر آن‌ها اعتراض وجود ندارد، بازشماری خواهند شد.
از سویی دیگر، نهادهای ناظر می گویند که احتمال دارد اطلاعات متفاوتی که اعضای کمیسیون رسیده گی به شکایت‌های انتخاباتی بدست می دهند بر روند اعلام نتایج انتخابات اثر بگذارد.
نعیم ایوب‌زاده، رئیس اجرایی تیفا در این باره اظهار داشت: «جزئیاتی که بتواند ارقام را تثبیت کند وجود ندارد و یک نوع با ارقام بازی صورت گرفته. قوانین، لوایح و مقررات مورد بحث نبوده و امروز بحث هماهنگی و عدم هماهنگی به میان آمده».
در عین حال تیم‌های انتخاباتی تاکنون دربرابر تصمیم‌های کمیسیون‌های ولایتی در ۲۳ولایت استیناف خواهی کرده‌اند که تفاوت در آرا، آرای مشکوک و آرای خارج از زمان از مهم‌ترین این شکایت‌ها استند.
کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی، پیش از این گفته‌است فیصله‌های دفترهای ولایتی این نهاد که در برابر آن‌ها اعتراض وجود ندارد نهایی استند.
در همین حال، تیم‌های انتخاباتی می‌گویند که کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی نمی‌تواند پیش از رسیده گی به استیناف‌خواهی این دسته‌ها بازشماری محل‌های رأی‌دهی را آغاز کند.


## ژوند

## د غاښونو بورس کول زړه قوي کوي



اورېدلي به مو وي چې وایي، خوله د زړه کړکۍ ده او څومره چې خوله او غاښونه پاک وساتل شي، هغومره به د انسان زړه هم روغ وي. تازه څېړنې ښيي، چې که لږ تر لږه د ورځې دوه ځلې غاښونه بورس شي، د زړه د ناروغیو مخنیوي کوي. ډاکترانو د زړه ځینې داسې ناروغان تشخیص کړي، چې اصلاً د غښونو د پاک نه ساتلو له امله د زړه په ناروغۍ اخته شوي وو. د څېړونکو په باور، د اوریو ناروغي د زړه د ناروغیو لامل کېږي؛ ځکه چې بکتریا له اوریو څخه وینې ته داخلېږي او له هغه ځایه زړه ته ځي. څېړونکو مالومه کړې، هغوی چې د اوریو ناروغي لري، د زړه په ناروغیو یې د اخته کېدو احتمال زیات دی. دوی سپارښتنه کوي چې که خپل غاښونه د ورځې لږ تر لږه دوه ځلې بورس شي، د خولې د بدبویي د ورکېدو سربېره، به مو د زړه عضلات هم قوي شي. د دې تر څنګ د خولې او غاښونو پاک ساتل یو ښه نزاکت دی، چې باید په پام کې ونیول شي. هغه کسان چې خوله او غاښونه پاک نه ساتي، خلک ترې لرې کېږي او زړه یې نه غواړي چې له نږدې ور سره کېني او خبرې ورسره وکړي.

## له فرصتونو ګټه واخلئ




فرصتونه باید له لاسه ورنه کړل شي او له هر فرصته باید ښه ګټه واخیستل شي. دا سمه ده چې د بریا سړک له خطرونو ډک دی، خو تاسو باید په هغه باندې په پټو سترګو لاړ نه شئ. که فکر کوئ چې اوسنۍ دنده مو په زړه پوري نه ده، ښه تنخوا نه لري او غواړئ په بله دنده پسې ورګرځئ، باید دغه دنده تر هغه له لاسه ور نه کړئ چې نوې دنده مو ښه یقیني شوې نه وي. که غواړئ په یوه معتبره تحصیلي ځانګه کې زده کړې وکړئ او یا هم ورته بریالي شوي وئ، لومړی له داسې کسانو پوښتنه وکړئ چې له دې ځانګې فارغ شوي وي، هسې نه چې څلور یا پنځه کاله دې په داسې شي ضایع کړئ چې کومه ځانګړې ګټه ترې وا نه خلئ. که نه هسې به مو خپله انرژي له لاسه ورکړې وي. د ژوند په ټولو برخو کې باید دا ډول فکر وکړئ چې د برې له پلونو تېر شئ، هغه پلونه، چې بیا پرې را ګرځېدل ستاسو لپاره ګټه نه لري، یوازې له خپلې موخې مو زړه توري کوي او په اندېښنه کې مو اچوي، نو ړنګ یې کړئ. بیا را ګرځېدل پرې هېر کړئ، څو وکولای شئ خپل مسیر تعقیب کړئ او موخې ته مو ورسېږئ.